مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۳/۰۸/۱۰

# د سیاست دنیا

نور نه سیاست کومه، نه سیاسی نظمونه لیکم
یـواځـې مینه کـوم، مینـئ ته شـعرونه لیـکم
+++
زما تـوبه ده د سیاسـت له دروغجنې دنیـا
زما تـوبه ده له دې تورې مکر جنې دنیـا
پوره پنځه زره توبې مى له فریب او دوکو
د اوسـیدو نـه ده دا پسـته دا تـب جنه دنیـا
نه پکى یارشته نه اغیار نه پکى ورورراوخور
ده له وحشت اودهشت ډکه دا کرک جنه دنیا

اغزنه ونه ده ، نه ګل او نه ښـکلا شـته پکى
له هوس جوړه ده، نه مینه ، نه وفا شته پکى
+++
خاندې یوه ته اشارې چیرته کى بل ته کوى
لاس ښکلوى ورته، سجده یى بیا کاکل ته کوى
نه پکى دود او نه دستوراو نه اصول شته دى
ګناه پنجاب کوى ګواښـونه، بیـا کابل ته کوى
دا د قدرت د لیـونیـو، لیـونى لـوبه ده
هر یو لګیا دى پردې وژنـې، ګټه خپل ته کوى

مونږه ناکام یو په سیاست کى، ځکه خپل وژنو
«اسـلام آباد»، آبادوو، خو خپل «کابـل» وژنو
+++
نه پکى رحم نه زړه سوى نه صداقت شته دى
نه پکى مـینه نه اخـلاص نه محبـت شـته دى
معاملې دې په سـرو ، په شـتـمنیو د نـورو
نه ضمانت پکى د سر، نه د شخصیت شته دى
سـوداګرې ده ،خـرخـول د وجـدانو دې پکى
نه پکى نښـه د ایمـان نه شـرافت شــتـه دى


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نن به پاچا وی خو سبا ته په زندان اخته شی
غم د دنیا کوی، آخر په غم د ځان اخته شی
+++
که سیاست علم وی، خو علم زده کول غواړي
مسلسل شل کاله لیکل غواړي لوستل غواړي
یواځی خپل کلي کی نه زده کیږی نه پخیږی
نوري نړی ته، سفرونه تلل راتلل غواړي
دا د جومات او کلیسا او د میندر کار نه دی
دا دتولني په جوړښت، سم پوهیدل غواړي

خو اوس سیاست نه جوړه شوي د سطرنج لوبه ده
سم غولول دي، چالاکي، د چار او پنج لوبه ده
+++
یم توبه ګار هغه سیاست نه چی انسان زوروي
خپلي فایدي د پاره ورور وژني، جانان زوروي
چي وي ولاړ د استبداد او فرعونیت په ستنو
د اقتدار د پاره ، سرا سر جهان زوروي
په سترګو ړوند په غوږو کوڼ دی ښه بد نه پیژني
ځمکه خو خیر، خوپه فریب سره آسمان زوروي

نو توبه ګار د دی، سیاست، دی تجارت نه یمه
بیخی منکر یی، له ارزښت او له قیمت نه یمه

نه نور سیاست کومه، نه سیاسي نظمونه لیکم
یواځی مینه کوم، میني ته، شعرونه لیکم

اګست/۶/۲۰۲۳
ایجکس – تورنتو – کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ